دوم : معمولاً مردم عادت گرفته اند بخاطرمبارزه ورسیدن به اهداف شان از وسایل گوناگون استفاده مي ورزند. خصوصاً یك تعداد از دجالان وکاهنان که دین رابخاطراهداف دنیوي شان مورد دست برد قرارمیدهند واز آن سوء استفاده مي نمایند . پس دعوت الهي ویا کسانیکه به انجام این وظیفه ماموریت دارند نه [illegible] بهد شان بخاطر اعراض [illegible] وشایستهٔ داعیان راه حق نبود، [illegible] طراهداف دیني شان ازمتاع بي ارزش دنیا لذت ببرند .

سوم : هرعملي که دردنیا اجرا میگردد خالي ازنقص وخلل نیست که طبق آن اجر ومزد شخص محاسبه میگردد لاکن دین خداوند از چنین محاسبه کاملاً پاك بوده ونمي توان اموردیني را بامتاع قلیل دنیاواسباب ومحاسبات دنیوي مقایسه نمائیم زیراکه عمل دعوت مرتبط به اخلاص است وبهترین مقیاس ومیزان در اجر وپاداش داعي همانا کیفیت اخلاصش مي باشد وبس

چارم : هرعمل که در برابرمزد وپاداش اجرا میگردد طبیعي است که تحت تاثیرشخصي که مزد میدهد قرار مي دهد وارادهٔ صاحب مزد در عمل مربوط دخیل مي باشد وفردیکه پاداش میگیرد خواهي نخواهي از شخص که پاداش میدهد متاثرمي باشد وتحت اراده وتا ثیر آن قرار میگیرد ویساً از داعیان بودند که درطول انجام وظایف شان تحت تاثیر چنین محیط قرار گرفته اند ومزد وپاداش دنیوي ایشانرا آن قدرخود فروخته ساخته که اصول وضوابط دعوت را فراموش نموده اند وتحت فشار مرجع که به اوشان متاع قلیل دنیوي را مي پرداخت قرارگرفته اند که مانمونه هاي زیادي آنرادرتاریخ معاصرنهضت هاي اسلامي درسرتاسر دنیا مشاهده نموده ایم وفعلاً هم این مامول جریان دارد درحالیکه انبیاء علیهم السلام و داعیان راه حق چنین نبودند ایشان یگانه هدف شان رضاي خداوند متعال بود وآرزوداشتند تا چطور بتوانند وظیفه شانرا به نحو احسن اجرا نمایند تا مورد رحمت وشفقت خداوند یکتا قرارگیرند وهیچگونه طمع نسبت به مدعوین ومردم نداشتند وهر عمل آنان بخاطر رضاي خدا بود و بس وارادهٔ هیچ شخص ویامحیطي قادر نبود تا اوشان را از راه که انتخاب نموده اند منحرف سازد ویا زیرفشار وتاثیرخود قرار دهد.

پنجم : هر گاه دعوت شوندگان آگاهي حاصل نمایند که شخص داعي آرزوي هیچ گونه مزد ، پاداش واحسان دنیوي را ندارد و تنها براي حصول رضاي خداوند واهداف مقدس دعوت جد وجهد مینماید . پس شکي نخواهد بود که چنین فردمورد پذیرش قاطبه مردم قرار گرفته از دعوتش سایرین متاثر گردیده ، در قلوب مردم جا خواهد گرفت ، صداقت اخلاص ، امانت داري داعي باعث میگردد تا روند دعوت و تبلیغ در جامعه به نحواحسن صورت گیرد و احدي را مجال اعتراض وانتقاد نباشد ، تا نقاط منفي داعي را به منزله حربه تبلیغاتي علیه اهداف عالیهٔ دعوت به کار ببرد و این خود مأمولیست که پیامبران علیهم السلام در اسلوب وروش دعوت شان به کار مي بردند هر عمل و حرکت آنان فقط بخاطر رضاي خدا و اعلاي دین حق بود و بس .

طالب هیچگونه منفعت شخصي و مصالح ذاتي نبودند ، روي همین علت بود که دعوت آنان روز تا روز در اعماق قلوب جامیگرفت و مردم درحلقه اسلام داخل میگردیدند ، چنانچه حضرت پیامبر (ص) در حدود سیزده سال در مکه مکرمه با تحمل مشاکل ومصایب فراواني توانست با پیشه ساختن تبلیغ و دعوت با اصول حکمت وموعظه حسنه دایره اسلام را توسعه ببخشد و بالا اقل دعوت حق را به استماع تمامي باشندگان جزیرة العرب برساند و براي تاسیس حکومت اسلامي در مدینه زمینه سازي نماید ، واضح است اگر چنین مقدمه براي دعوت مردم وجود نمي داشت و مردم آن دیار ذهناً و فکراً آماده چنین کاري نمي شدند آیا نهضت نبري مي توانست بعد از هجرت آنهم در دیار دیگران پایه هاي حکومت اسلامي را بنانهد ؟

اما چون دعوت پیامبر بر پایه هاي اصولي و روش هاي علمي استوار بود و درین راه با کمال اخلاص وصداقت پا میگذاشت طالب منفعت شخصي ، متاع دنیا ، منصب وسلطنت نبود و با شعار " إن أجري الا علي الله " به کارش ادامه میداد که بالآخره مؤفقیت هاي نصیب آنحضرت (ص) گردید . پس لازم است که هر دعوتگر کارش را طبق سنت و روش پیامبران خاصتاً حضرت محمد (ص) انجام دهد و آرزوي هیچگونه منفعت و پاداش دنیوي را از کسي نداشته باشد . امام حسن بصري میفرماید : انسان تا وقتي مورد احترام وتکریم دیگران قرار میگیرد که چیزي از کسي طلب نکند وهرگاه این کار را بکند وازکار خود امید پاداش مادي داشته، مورد طعن ونفرت قرار گرفته و مردم وي را خیلي حقیرمي شمارند وگمان مي ورزند که هدف داعي حصول رضاي باریتعالي نه ،بلکه خواهشات مادي دنیوي است ومي خواهد ازین طریق کسب روزي نماید وضوابط عالیه دعوت راقربان مطامع ومصالح شخصي اش قرار دهد . لذا

یکي از مقتضیات وظیفه دعوت این است که دعوتگر هرآنچه درطاقت دارد از استغناي نفس کارگیرد و راجع به ارزش هاي ماد ي خیلي بي تفاوت باشد وآنرا یکسره ازنصب العین واهداف دعوت خارج کند، داعي مي تواند در پهلوي انجام وظیفهٔ دعوت به فراگیري اموورتجارتي ، زراعتي ویا حرفوي بپردازد تا از طریق آن کسب معیشت نموده به کسي محتاج نباشد ووظیفه مبرم دعوت را کماحقه ادا، سازد وبدون آنکه از کسي اجر و پاداش را طمع نماید با کمال اخلاص ،صداقت وایمانداري در راه بدست آوري ارزش هاي عالي دعوت جان فشاني کند . یکي از تابعین مشهور به نام ایوب سختیاني بار ها به دوستان وعزیزانش توصیه مي نمود تا راه بازار را در پیش گیرند ( به داد وستد ) بپردازند تا ازین ناحیه کسب معاش نموده دستشان به سوي دیگران دراز نه باشد زیرا اوعقیده داشت که در استغناعافیت است واین عادت وطبیعت انبیا، علیهم السلام وسلف الصالحین نیز بود که با وجود فقر از استغناي کامل برخورداربودند ،اکثراً در پهلوي مکلفیت تبلیغ ودعوت به حرفه هاي مختلف از جمله نجاري خیاطي ،تجارت ، امور صنعتي وچرانیدن حیوانات مبادرت مي ورزیدند وآنرامایهٔ افتخار خویش مي دانستند وجانب افراط وتفریط را نیز مدنظرداشتند .طوریکه در جمع مال ومتاع قلیل دنیا نه آنقدر حرص مي ورزیدند که مانع انجام وظایف اصلي و دعوتي شان گردد ونه هم سستي وسهل انگاري مي نمودند که به دیگران محتاج بوده اهداف دعوت را زیرسوال برند بلکه کسب معیشت آنان از طریق کار وفعالیت روزمره شان بخاطري صورت میگرفت تا بتوانند با دست باز وخاطر آرام به هدف اصلي (دعوت) نایل آیند.

البته بسا اوقات دیده شده افرادیکه وظایف شان را به صورت درست واخلاص و امانت داري اجرا نموده موردتفقد و مرحمت و توجه مردم قرار گرفته اند و هدایا، خدمات ومهماني ها و... هم متوجه چنین افراد شده است

ادامه دارد.

# تعمیر خانواده

پیوسته بگذشته ٩٠
ترجمه : تاثیر

زنده به گورنمودن دختران :
عرب ها دردوران جاهلیت ( قبل ازاسلام ) دختران خودرا بابیرحمي وبصورت ظالمانه زنده بگورمي نمودند واین عمل بدوعلت انجام مي یافت: عده بي ازمشرکان جهت خوشنودي اصنام به کشتن اولاد خود مبادرت مي ورزیدند وبرخي دیگر ازخوف ، فقر وفاقگي ، فرزندان عزیز خودرا به چنگ مرگ مي سپردند . حدیث مذکور بخاطري دختران راخاص گردانیده است که این ظلم وسنگدلي فقط درمورد آنها اعمال مي گردید .

اسلام آمدواین سنت شنیع وسخیف را ازمیان جامعه برداشت و باعث نجات دختران ازذلت وخواري گردید، وبه خانواده ها تلقین نمود تا بادختران نیز ازراه نرمي ، دوستي وعطوفت انساني رفتارشود .

اگرچه به برکت اسلام جامعه ماازاین عمل ظالمانه (زنده بگورنمودن دختران ) پاك است ولي بنابرناآگاهي ازقوانین دیني بعضي ازخانواده ها علاقه ومحبتي که به پسران دارندبه دختران ندارند بلکه باپیدایش شان غمگین مي شوند .

عده یي ازخانواده ها اندکه دختران راازمحبت ونوازش خودمحروم میسازند، خصوصاً پس ازعروسي آنها رابیگانه تصور نموده علایق خویش را قطع مي دارند وحتي آنهاراوارث پدرندانسته ،ازحق شرعي محروم شان مي کنند که اسلام بااین طرزتفکر کاملاً مخالف است .

حضرت محمد(ص) پس از نافرماني مادر، بخل وحرص وزنده به گورنمودن دختران، سه موضوع دیگري را بیان نموده که خداوند متعال آنرا ناپسندمي دارو:
١- گفتن سخن هاي بیهوده ( پرحرفي ) ، ٢ - بسیارسوال کردن ، ٣ - برباد دادن مال ودارایي .

گفتن سخن هاي بیهوده (پرحرفي ) : معني پرحرفي اینست که انسان در حفظ زبان خویش هیچگونه احساس مسئولیت نه نماید، هرچه برزبانش بیاید بگوید، سخنهایي را ازخود بسازد یاسخنهایي را به نقل قول ازدیگران بدون تعمق وتحقیق به زبان براند . بقول معروف« هرکي زیاد گوید، زیادخطاکند » (من کثره کلامه کثره خطاء»

حضرت خاتم النبیین صلي الله علیه وسلم مي فرماید : کسیکه به خدا(ج) وروز آخرت ایمان دارد ناچاراست یاسخن درست ونیکویي بگوید ویاخاموش باشد . ( مسلم )

پرسش زیاد نمودن : بعضي مردم عادت دارند هنگامیکه درمجلسي جمع شوند فوراً به تجسس مي پردازند وکوشش بخرج میدهند تا ازهمه رازهاواسراریکدیگرواقف شوند وحتي ازپرسشهایي در امورخانوادگي هم دریغ نمي ورزند که گاهي پرسش وپاسخ هاباعث جدال گردیده ، اسباب پریشاني وناراحتي جانبین را فراهم میآورد ودشمني هاي خونین را ایجاد مي کند ازطرف دیگرپرحرفي موجبات نارضایتي خدا جل عزه میگردد .انسان حراف درتهمت وغیبت جري بوده ، براي اینکه خاموش نمانده باشد همچوآب روان سخنهاي خودرا دنبال هم میگوید که بیشترین حرفهایش کذب وتهمت میباشد.

این قماش افراد ازشناخت ارزش زندگي غافل اند وازروي ناداني مرتکب جرمي مي شوند که اتحاد، طمانیت وسکون خانواده ها رابربادمي دهد وآرامش اجتماع رابه مخاطره مي اندازد

بعضي ازکسان اندکه سوالات زیاد درمجالس به ارتباط مسایل دیني مي نمایند وعلمارا به استهزا گرفته وبه ناحق بازارکج بحثي راگرم مي سازند وکوشش بعمل مي آورندتااستعداد وقابلیت خودرا درانظاردیگران به نمایش بگذارند وبااین ترتیب خودرا دراجتماع خبیروداشمند جلوه دهند تاشهرت کذایي پیداکرده انسان هاي ساده لوح رابدام خویش گیرند وازنیروي بازوي شان استفاده ناروا بعمل آورند . برمردوزن مومن است که قدرزندگي رابدانند وجز به رضاي خداحرف نزنند وجز سخن نیکونگویند.ازتهمت ، کذب وغیبت بپرهیزدوعلاوه باحرف هاي بیهوده وقت خودرا که ارزش بس عظیم درزندگي دارد، بیجا صرف نه نمایند .

حضرت محمدصلي الله علیه وسلم مي فرمایند :« اهمیت وخوبي اسلام براي انسان دراینست که اورا ازسخن هاي بیهوده منع مي نماید » :

بربادادن مال : مطلب ازبربادي مال اینست که انسان براي حفظ وحراست آن خوب توجه نه نماید، آنرادرراه شرعي به مصرف نه رساند درراه شهرت، اجراي مراسم ناروا ، کارهاي فحاشي ومشغله هاي غیرشرعي خرج کند .

مال، امانت خدا(ج) درنزدبندهٔ اش است وباید مطابق رضایت وخوشنودي خدا (ج) بمصرف برسد. اثاث خانه هم ازجمله نعمات خداوند بوده که به قسم امانت دردست انسان قرارمي گیرد، باید درحفظ ونگهداري آن توجه جدي مبذول داشته شود تابابي پروایي ضایع نگردد.این طرزفکر ،درست وصحیح نیست که تملك آنچه را انسان درعالم اسباب داشته ، دراستعمال وباتابودي آن کاملاً مخیرباشد وبدون کدام قیدوشرط به آن تصرف نماید لازم است براي خوشنودي خدا دراستعمال همه اموال منقول وغیرمنقول حدودشرعي رعایت شود واز تبذیرواسراف واستفاده نامعقول ویاطرد نامطلوب مال خودداري گردد وبه نعمت خدا قدروقیمت گذاشت وآنرا ضایع نباید کرد .

( ادامه دارد )

# خود خواهي که داسلامي ټولني وژونکي ناروغي

ژباړه : ج .عبدالناصرعزیزي "کاکړ"

داسي ښکاري چي اسلامي نړي له یوډول خطرناکي ناروغي سره مخامخ ده چي دهغي په اثر نه یواځي له مستقیمي لاري څخه منحرفه شوي بلکه له خپل سرنوشت څخه هم ناخبره ده .داټولنه په یوي داسي مرحلي کي قرارلري چي اکثره هیوادونه یي له سالمي رهبري نه محروم دي اوکومي پیښي چي دهغوي په چاپیریال کي ترسره کیږي یااصلاً ورته متوجه نه دي اویاهم په سرسري نظرورته ګوري . اکثرددوي ښه کالي، ښه خواړه اوپیسي درلودل کافي ګڼي اودځان لپاره یوډول نیکمرغي بولي،مګر دوي غلط پوه شوي اوله دي نه غافل دي چي دي غلطي مفکوري دوي څومره غولولي اوله نوري نړي نه یي څومره بیرته پریښي دي . داډیرداتاسف ځاي دي چي داډول ځان خوښي خلك دخپل لندفکري دایره کي رابنکیل شوي اوداسلام له پرمینواصولو څخه یي فاصله نیولي اوټولني درغاوني په اره چي اسلام کوم اصول وضع کړي ترپښولاندي کوي یي

که څه هم دوي خپلوځانونوته مسلمانان وایي خویدي نه پوهیږي چي اسلامي فریضه اووظیفه ئي څه ده .دوي له دي څخه هم ناخبره دي چي په نړي کي باید څه وکړي اوڅه ډول دهغي له طبیعي منابعو څخه یي په آباد ولوکي کارواخلي . که مسلمانان په همدي شان بي خبره اودغفلت په خوب ویده وي نوليږي نه ده چي دیوي لویي فاجعي سره مخامخ شي . داننني ګډودي اوستونزي چي بوځاي اوبل ځاي په اسلامي نړي کي ترسترګوکیږي دیوي فاجعي پیلامه ده چي علت یي داسلامي اصولو څخه دمسلمانانو په سرغړاوي کي نغښتي دي . دننني زماني دستونزو زیاته برخه په اسلامي نړي پوري اړه لري، نن په آسیا، افریقا اواروپاکي دناهیلومهاجرینویوه زیاته برخه مسلمانان تشکیلوي . ولي داسي کیږي ؟ ولي مسلمانان په هرځاي کي هرڅه له لاسه ورکړي دي ؟

دي دردوونکو پوښتنوته ځواب یو ژور سوچ غواړي.هر مسلمان باید ددي رازراز کړاوونوداوریدو په اړه عمیق فکروکړي او دهغو داصلي علت په لټه کي شي . دفارسي ژبي یونومیالي شاعرانوري وایي « له آسمان نه چي هره بلا رالویږي نوداانوري په کورغوړځیږي » دننني نړي پیښي داپوښتنه راولاړوي چي ولي اسلامي نړي داانوري دکوریه شان شوي ده چي هره بلا پري غوځیږي او دټولو بدمرغیوهدف ګرځیدلي ده ؟ ددي خواب ښکاره دي، خداي تعالي دمسلمانانو په حالت کي داتغیریه ناځاپي ډول نه دي راوستي، په ابتدا کي چي دوي په اسلامي اصولو ټینګ ولاړوو دملتونو سرداران وو خوکله چي داسلام له اصلي لاري څخه منحرف شول اواسلامي اصول یي ترپښو لاندي کړل نوبه خپل لاس یي ځانته دبدمرغي عوامل برابرکړل.

اسلام مسلمانانوته داتحاد ، هوښیاري ، یوبل سره دمرستي کولو درس ورکوي ، چي دااصول دمسلمانانو لپاره دنجات دکمربند حیثیت لري ، ترهغوچي مسلمانانو په دي اصولو پنجي ښخي کړي وي نودمصیبتونو په سمندرکي له دوبیدلو څخه ژغورل شوي وو، خوکله چي له دي اصولو څخه منحرف شول نوپه حقیقت کي دنجات داکمربند یي لیري واچاوچي،نتیجه کي دستونزو په سمندرکي ډوب اوله رازراز کړاوونوسره مخامخ شول.کله چي دخپل شخصي ژوند په فکرکي شول اوټولنیزپرمختګ ته یي شاکړه نودخودخواهي په تالاب کي غرق شول . مسلمانانوته داښودل شوي چي دخپل ژوند دسمون اودټولني پرمختګ کي دخداي(ج) داوامرو له اطاعت څخه کارواخلي دوي ددي لپاره پیداشوي چي دخداي تعال بندګي وکړي اودهمدي بندګي په اساس باید دخداي (ج) دمخلوقاتو دارتیا وویه لیري کولو کي مرسته وکړي چي داپه حقیقت کي دخداي تعالي دبندګي یوارخ دي .

داداسلام دستوردي چي دبشري خدمتونویه سرته رسولو کي هرډول رنج اوتکلیف په ورین تندي ومني، اوهمداکارددي سبب شو چي مسلمانانو په لږوخت کي دنړي پرزیاته برخه خپل حکومت ټینګ کړ، خوکله چي داسلام په دي اصل اودستور سترګي پټي شوي اودشخصي ژوند دسمون په فکرکي شول نود خودخواهي په یوه مرګوني ګرداب کي پریوتل . که څه هم دځینو خلکواقتصادي سطحه لوړه شوه خویه عمومي ډول داسلامي ټولني دبیرته والي باعث شول.هغو کسانوچي دنیوي جاه وجلال یي زړه وړي ؤ، ویي نشوکړاي چي دخداي تعالي بندګي په سمه توګه ترسره کړي اودځان غوښتني له امله یي ونشوکړاي چي دخداي تعالي دمخلوق خصوصاً خپلو مسلمانو وروڼو له پاره دخدمت مصدروګرځي،اوکله چي یي داکاروننشي کړاي نویه هیڅ حساب دي اوله هغوي څخه دلرګي یوه تخته غوره ده .

دوي په حقیقت کي مړه دي ځکه ددوي ضمیر دخودخواهي ویروس وژلي اوداقدرت یي ورڅخه اخیستي چي دژوند په اصلي وظیفي کي بریالي شي .دواقعي بنده ګانو صفت خداي تعالي داسي کوي ونوروخلکوته پرخپلونفسونوترجیح ورکوي که څه هم په خپله په فاقه کي قرارلري، اوهرچاچي له حرص څخه ځان وساته پس همغه ټولګي بري مونتونکي دي »
( الحشر- ٩ )

هغوکسانو چي خپل نفس یي دحرص څخه ونشو ساتلاي که څه هم په ظاهر کي په دنیوي ژوند کي کامیاب ښکاري ، خوپه حقیقت کي ناکامي یي په نصیب ده .نن باید دهغوي دلندي مودي بریالیتوب نوورخلك ونه غولوي .که لږ دهغوي ژوند ته ځیر شو نودهغوي ناکامي به راته څرګنده شي، دهغوي په چاغ اوسست بدنونوکي دخلکوويني جریان لري، له دي سره سره چي قیمتي جامه یي تن کي ده زړونه یي له یوډول کسالت سره ملګري دي . دخودخواهي تیزاب ټل دهغوي شخصیت اوبه کوي، چي په نتیجه کي داسي عنصر ورڅخه جوړیږي چي دټولني په دردنه دواکیږي .

یهودان ددي لپاره ورټل شول چي هغوي ټول هغه کارونه چي دخداي تعالي ځوامنع شوي ووسرته یي رسول اوهمداراز په ځمکي کي دفسادپه خپرولو یي لاس پوري کړ، دیهودو داعمل دمسلمانانو دپاره دعبرت درس دي ، یهودان هم یووخت دخداي تعالي له پلوه غوره کړي قوم ؤ، خوکله چي په ګناه اودخداي تعالي داوامرو په پائمالولویي لاس پوري کړ نودامقام یي له لاسه ورکړ .اوس مسلمانان دخداي تعالي غوره کړي قوم دي، خوکه مسلمانان په عامه توګه دنواهیو څخه ډډه ونکړي ،نوڅه شي به دخداي تعالي داغوره کړي قوم دهغه (ج) له قهرڅخه وژغوري ؟ واقعاً چي هیڅ شي دهغه (ج) دقهرمخه نشي نیولاي دخداي تعالي قهر که څه هم په خطاکارانونازلیږي خونورخلك هم ورڅخه متاثره کیږي ، دخداي تعالي قهربیلابیلي بڼي لري چي یوډول یي پرملت دفاسدومشرانوګمارل دي چي له بدشامته ئي نورهم په پریشاني کي لویږي .

ددوي دنجات یواځیني لارداده چي دخداي (ج) اوررسول اکرم صلي الله علیه وسلم په لارښوونوعمل وکړي ،اوله دغو دوو منابعوڅخه چي دکومو اوامرو اونواهیوامرشوي هغه عملي کړي .چي ددي کار پواسطه به وکړاي شي چي هم ځان اوهم دخپلو مومنوورونو سره مرسته وکړي . داسلام په اوایلو کي دصحابه وو کړنلاري ته یونظر اچول موږته داراښیي چي دمسلمانانوورونو سره څه ډول رویه غوره کړواوڅه ډول ټولنیزوکړوته پرفردي ګټوترجیح ورکړو اودمسلمان ورور په مقابل کي ځنګه ځان تیریدني ته حاضرشو . محمدصلي الله علیه وسلم په زمانه کي دکفاروامسلمانو ترمنځ په یوه جګړه کي چي یوڅه مسلمانان ټپیان شوي وو .یوه مجاهد یوګیلاس اوبه ترلاسه کړي اوټپیانوته یي راوړي کله چي لومړني ټپي ته یي وراندي کړي نودوهم ته یي اشاره وکړه چي هغه

(٣)مخ

# لنده کیسه

دریغه ورځ وه چي وریځ ،تري دمرګ له ویري دکور په زیرزمیني کښي ناست وو.موږ په خپل راتګ ډیر پښیمانه وو خوله شرمه بیرته تللاي نه شو .په لومړیو ورځوکښي خو به مو دچم ، ګاونډ ترخلکو ځان په دي لوړ بالله چي هغوي هجرت نه وکړي ، خو چي لږه موده وروسته دوسلوداستعمال مسابقه پیل شوه نوبیا مو دا غرور داسي دړي "وړي شو چي وورسره یي زمونږ غوارلس کلني هجري هیلي هم په سیند لاهو کړي ، اوبیا موټر ټولو ستر ارمان داو چي کله به پیښور ته په دوهم ځل هجرت بریالي شو .

په څلورمه ورځ الوتکو هم زمونږ پرسیمه بمبارد پیل کړ .دخرواریزو بمونو دهریم له چاودني سره به مي ماشومانو له هیبته داسي کړیکي کړي چي تابه ویل ګني ځوك تري په ژوندیني ساه باسي .

زما یو غم نه و. زما دماشومانو په کتار کښي یوه داسي نجلي هم وه چي تش لیدل یي زما لپاره له پوره غمه کم نه و. دهغي نوم ورکه وه .خپل نوم یي سپوږمي وه .یو وخت په ماشومتوب کښي له کوره ورکه شوي وه نوځکه یي مور ورکه بلله . اوږمي دا نوم وریوري بیا داسي ترل شوي وچي ټولو ګاونډیانو به هم په همدي نامه نومولي . ورکه تر سپوږمي ښکلي وه .اته ،نهه کاله عمر به یي درلود.

دهغي معصومي څیري اومظلومیت ته چي به ما وکتل نو دخپلوماشومانو دژغورني غم به راته هیر شو.

دوه ورځي مخکي دهغي دکور ټول غړي په توغندي شهیدان شوي وو اوتقدیر ددنیايي شمیره کړاونو ته یواځي پریښي وه . دمرګ ویري موږ دومره سره نژدي کړي وو چي ما دا احساس پري هم نه کاوه چي ورکه دي پردي نجلي وي او له ځانه سره مي داپښلي وه چي دتګ په وخت به هغه هم راسره وي. په څلورمه شپه بمبارد اوږدي کمي شوي . دشپي په تیاره کښي له کوره راووتو. واوره دومره وریدلي وه چي پښي یي پټولاي شوي ډیر سوړ باد و -یونیم توغندي به په واورو کښي لګیده .دمزل پر وخت به

# ورکه

حفیظ الله تراب

ورکي ترشاه ډیر کتل تابه ویل ګني مخکي تګ ته یي هډو زړه نه کیږي .هغه ګرمه نه وه .مور، پلار اووروڼه یي لا دکور دخاورو لاندي پراته وو. شیبه په شیبه دمرګ خطرو اوهله موټرسل وشو چي په موټرکښي کښیناستو .څه ساعت وروسته ماهیر ته ورسیدو . با د واوره پر سرك دومره کلکه کړي وه چي دموټرګرندي تګ به یي ټکني کاوه -د ماهیپر پیچومي لا پاي ته نه و رسیدلي چي موټر یي واکه شو. دړیورله ډیري چیغه کړه، ددي سره مي یومهیب غږ واورید . بیانوژه په ځان پوه شوي نه یم اوچي کله مي سترګي وغړولي نویوه شوم چي د ګور دټولو غږو سره پغروغتون کښي پروت یم . دنورو په نسبت زما زخمونه ښه وو.له ځایه پاڅیدم خپل بیل بیل ماشوم مي وکوت . دچا لاس مات او د چا دبدن بله برخه .ښه و ټول پوره ووخو ورکه نه وه . دروغتون له نرس نه مي په چالاکي وپوښتل وروره ! ورکه څه شوه ؟ هغه راته په تریو تندي وویل ! دڅه شي ورکه !

ورکه څه شي دي ؟ ما ورته بیاوویل ! ماسره یوه بله نجلي هم وه . ورکه نومیږي هغه په تبسم انداز جواب راکړ وروره ! ستا اعصاب خراب دي . ورکه مرکه دلته نشته توکریوال واکتر پسي ولاړم .هغه هم د رد جواب راکړ.

پیښور ته په رارسیدو مودخپل وران کنډر سلام ددوهم ځل لپاره بیا وکړ . اپله مي دسکون ساه واخیسته خوداځل هجرت زه دومره غمجن کړم چي دپخواني هجرت ټولي ستونزي مي هیري شوي .ما سره به تل دورکي فکرو .کله چي به مي هغه رایاده شوه نودنیا به راباندي وګرځیده .زړه کښي به مي داګرځیدل چي د هغي مړي به دسیند اوبو وړي وي او که به کارغانو خوړلي وي ؟! او که ژوندي وي نو چیري به وي له دهغي راتلونکي به زه ډیرخوروولم . داسي شپه به نه وه چي هغه به موخپلوکښي نه یادوله ،ګواکي دهغي خیال به لکه دروح راسره ملګري و.

څه موده وروسته ښار ته دمزدوري پسي ولاړم . ددي پر ځاي چي له چا نه دکار پوښتنه وکړم دهجرت تیروختونه مي ټکي په ټکي داسي رایادشول لکه دیرنژدي چي تیرشوي وي . هغه ورځي مي سترګو ته ودریدي چي یي له معاشه به مجاهدین جهاد ته په دومره مینه تلل چي حتي ټوپك به هم نه ورسیده .

د هغوي هغه وختونه مي رایاد شول چي دتبرك لپاره به یي دنړي مسلمانان لیدلو ته راتلل او چي کله مي اوسني ناخوالي را یادي شوي نو یي اختیاره مي تر خولي ساړه آهونه ووتل اوفکر ته مي هغه ورځ راغله چي دورکي دکور ټول غړي یي ګناه پخپلو وینو ولمبیدل ورکه مي بیاذهن ته ودریده.

دهغي بیکسي دیادونو په یادولو لکه لیوني هك پك ودریدم ، حالادهغي خیالونه پوره کړي نه وو چي په لوړ غږ مي داسي غږونه واوریدل : کاکا ، کاکا ! ددي سره د غږونو- لوري ته څیرشوم .ومي لیدل چي یوه نجلي په شکیدلواوخیرنو جاموکښي زمالوري ته راځغلي .هغه لاماته نه وه راورسیدلي چي حیرانتیاواخیستم .ما فکرکاوه چي خوب وینم .دخپلوخیالونو په رښتیا کیدو راته ځان بزرګ ښکاره شو. هغه مي وپیژندله .یم لوي بازار کښي خداي (ج) خپله ورکه را پیداکړه .لس -دولس ګامه فاصله په لاپاتي وه چي له ډیري خوښي نه یي مخي ته ورغلم اوهغي په یوي منهي سره لاسونه رانه تاوکړل اوددي سره یي راته په شنهکیدلي ژړا وویل .کاکا ! هغه سړي ما نه پریږدي.

ورکي لاپوره خبري نه وي کړي چي هغه هلك هم راورسید. هلك څه ؤ ؟! په هسي لیدلویي هم بني آدم ته غوسه ورتلله .بیرڅټ، توري جامي اوسوریږي توره مخ . په کلکه لهجه مي ورته وویل .

مور اوخور نه لري ؟ هغه لومړي د فلمي ادا کارغونډي لاسونه په خپلوتشوکنبښودل او بیایي وویل ! څه مره ! تاسو مور اوخور څه پیژني ! که دومره نران یي لیني مودسوال نه منع کړي او بیا یي وویل .ځنګه ځوانه

(٧)مخ

# هرڅه موکباړ شول

داکټرعبدالخالق "فرقانیار"

دانقلاب اوهجرت په څپو کي رابیداشوي اصطلاح اودسره فوځ ولښکریعني دروسي وحشي خرسانو اودکمونیزم دسوپرطاقت دمادي اوعسکري عصري وسایلو اوتجهیزاتوتربدلي کنډاوکپرشوي فولادي لاشونه چي دجنګ اوجګړي په خونړي ډګرکي دخداي دلاري دمجاهدینوپه لاس اماررونه اماروته ددښمن د شکست اوناکامي اوپوره رسوايي وروسته پاتي شوي چي دټولو خداي دبښمنولپاره دپوره عبرت ژوندي اوښکاره مثالونه هم دي یعني دپروني سري امپراطوري دزوروظلم اووحشت جنګي اوخونړي وسایل چي دنن ورځي دبیکاره یالتوخراب له کارغورځیدلي زنګ وهلي مات ګوډتوته اوپارچه شوي لاشونه چي په هره دره خوړسمه اوغره کي به اماروامارو پراته دي دکباړیه نامه په بازارکي هره خواپلورل کیږي یعني دسري امپراطوري پروني زور اوظلم نن کباړشو یادکباړمطلب داچي هرهغه ماشین یادهغه پرزه چي دخپلي اصلي وظیفي اوفعالیت څخه ولویږي اوبیکاره اوپالتو ځیزونو امبارونو ته حواله شي نودهمدي اصطلاح په رڼاکي زموږ دژوند اوخواك په هرو شعبوکي همداسي بدلونونه راغلي دي چي کباړته ورته مثالونه لري .یعني زموږ اعمالو اقوالو افعالو اونظریاتو داسي رنګ اختیارکړي دي چي له خپلو اصلي اصولي اونظریاتي حدودو څخه ئي واټن واټن فاصلي اخستي دي او دخپلو انساني اسلامي اوایماني دندوڅخه تولوسترګي پټي اولاس په سرشوي دي اودنیستیو اوبدبختیوپه تباه کوونکي سیلاب ورګډ شوي چي خداي مکړه ددنیا اوآخرت دخرابي اوبربادي سبب ګرځیدلي شي هغه داچي !!

۱- زموږهیلي اوامیدونه دیوتیم میلیون بي ګناه انسانانوقرباني اوزموږدحقیقي فتحي اوکامیابي رښتیني آرمان اودیوه خوشحاله سوکاله ، آرام، آباد اودالسلام ترشنه بیرغ لاندي ژوند کول زموږ امیدوو . زموږ دورونو شهادت

زموږ ددوستانو غیرت زموږ دمجاهدوصبر او استقامت اوزموږ دمومنووطن والو جهاداوهجرت فقط اوفقط دآخري فتحي اونصرت دیو واقعي اسلامي حکومت اودصلحي اوحقیقي حریت دهمدي پاکوهیلو اوامیدونو په جامو کي نغښتي ووچي ترڅودمظلومانو کونډو اویتیمانولپاره دزره تکورشي اودخپلي پاکي قرباني په رڼاکي دیو واقعي اسلامي نظام بنسټ هم کیږدي چي ترڅودتولي تږي دمسلمانانو اومستضعفانولپاره دخپلو فرائضوداداودخپلو حقوقو دحصول لپاره یوکلك سنګرهم وي مګرله بده مرغه وقت اوزماني باري ونکړه اوزموږ ساحل ته نژدي رسیدلي کښتي دډیرو بي رحمه توفانونوښکارشوه چي ووسره زموږسپېڅلي هیلي اوامیدونه خداي مکړه هم دخاوري کیدودي زموږدامیدونوسباون لاتورهم دتروږمیوښکارشو . زموږ آرمانونه هم زموږ دشلیدلو ګریوانونو ګوډوماتووجودونوکتلو کبر کلي کوروونواوجوماتونو اوترمواوښکوحیرانونکي فریادونو ویراوغمونو په څپوکي ورك نامعلوم تري تم شول مګرهرهغه شي چي انسان مځکي له مرګ څخه وژني ناامیدي ده اوهغه دشیطان خاصه وه خوموږ که څومره دبلا اوآفتونو سره لاس اوګریوان هم یونوبیاهم دخپلو مقدسوارمانونودرښتني کیدو په امیدیو مګرافسوس چي په ډیره حساسه موقع کي زموږهیلي اوامیدونه دواړه کباړشول .

۲- زموږوعدي :

خداي (ج) دوعدوپه وفاسره ډیر ټینګارکړیدي اوداني دمنافق اومؤمن دفرق اوتمیز لپاره حد ګرځولي دي الله پاك هم په خپلو وعدوټینګ ،ثابت اورښتوني دي نودخپلو مومنو بندګانوڅخه هم ددي لوي اسلامي مسئولیت داداکیدو اووفاداري خصلت په درلودوتاکیدکوي مګرله بده مرغه چي تن سبا هرڅه برعکس روان دي دخداي ددي حکم هیڅ خیال نه ساتل کیږي هغه داچي دنن وعده حتي ترمابنامه پوري هم په ځاي نشي پاتي کیداي ددنیا دقدرت اوګټوپه خاطردکړي وعدي پرخلاف خپل ټول مادي اومعنوي قدرت په کاراچوي دخداي دویري پرځاي دخپلو باداراتوڅخه ویره اوحیا کوي حتي دلیکل شوي وعدي دقلمونو رنګ لاوچ نه وي چي بیا دهغه خلاف ډنډوري غږوي خداي اومخلوق دواړوته فریب اودوکه ورکوي هرانسان دوه ژبي لرونکي شوي دوعدي په مهال دقسم لپاره خپل وکیل نیسي ترڅو دمخلوق له انتقاد څخه امن وي خوخداي له هرراز ،مکراوچل څخه خبرداردي اول خودیرجنابان دوعدي اودمیثاق صلاحیت نه لري خوکه ناګهان دداسي کولو سره مخامخ شي توبیا نه دخداي دناراضي اونه دمخلوق دشرمندګي خیال ساتي بلکه خپل ناروا کړه کوي که څه هم دټولو مظلومانو دتباهي سبب هم شي همدي ډېرووعده خلافیوزموږټوله هستي اوشتمني له خاورواوایرو سره برابره کړه همدغو غداریواوبي عهدیوزموږکورکلي ، جومات منطقه قوم اوملت دغمونو ویرونو بربادیو ناامنیو، چوراوچپاول سره لاس اوګریوان کړ اوزموږټولي مادي انفرادي اواجتماعي هستي ئي دنیستي اوناپودیو په مست سمندرلاهوکړي اوخوځاتنو اوغدارو دخپل قدرت دحفاظت اوساتني لپاره زموږ دملت اوټول اسلامي امت سرمایه اوشتمني ددوداوباروتوخوراك کړي اوټول ملت ئي دخپل نفاق په سره انګارکي لولپه کړ نواوس چي هیڅوك دوعدو خیال نه ساتي نوښکاره خبره ده چي زموږوعدي هم کباړشوي .

۳- زموږامانتونه : دامانت سپارل خپل اهل ته دادمسلمان فرض دي اوعمل پري نه کول ګناه ده غدراوخیانت دخداي ددین سره جفا کول دامانت خیانت کول دي دخداي حدودو تریښو لاندي کول داداهلیت نه درلودل دي نوچي څوك دورکړل شوي دندي اومسئولیت اهل نه وي نوپه ریښتیاسره دشراوفسادمنبع اومنشاء ګرځیدلي شي چي بالاخره به دخداي دورکړل شوي امانت سره هم غدراوخیانت کوي نوچي کله دخداي اورسول کونډورنډو یتیمانو مظلومانو ،فقیراومسکینانوامانتونه خیانت کیږي نوآیاپداسي ټولنوکي به څه د خیراوفلاح کامیابي اوسعادت امید پیداشي اوڅه به خلق دخپلو حاکمانوتاج وګرځي نوهمداوجه ده چي هره ورځ تربلي بتره کیږي اوخلك به دآفتونو ، رنځونواوکړاوونو سره لاس اوګریوان کیږي که چیري ملادمحراب امانت ،عالم ددین امانت ،حاکم درعیت امانت ، قوماندان دافرادو امانت امر دمادون امانت ،داکټردمریض امانت ، معلم دشاګردامانت باداردمزدور امانت اوتجاردجتماع امانت په ایمانداري اواخلاص سره اداکړي بي له شکه چي دفساد څخه پوره پاکه اوسوچه اسلامي ټولنه به جوړیږي چي دخداي رحمت اونصرت به ددوي دحال شامل ګرځي اوکه هرچا غدراوخیانت وکړ نوبیوه مفسده جامعه چي هریوه به دبل په ګریوان کي لاس اچولي وي دظالم دظلم اووحشت منګولي به دمظلوم په ستوني خښي وي هرڅوك به قرارته په فرار ترجیح ورکوي آخربه ټول قوم اوملت دمرګوني ګوزارسره مخامخ اودنجات لاره به نه مومي ټول په دغمونو اوویرونو په دریاب کي غوټي وهي هغه چاچي دخداي اومخلوق دامانانتو سره غدراوخیانت وکړ خداي به پرهغه دخپل رحمت دروازي بندي کړي اوپه خپلو کي ئي سره واچوي همداوجه ده چي زموږدملك تش په نامه حاکمانودخداي اومخلوق دامانتونوسره غدراوخیانت وکړ او ددنیا دفاني اومجازي قدرت دساتني اوبقالپاره ئي دمظلومو کونډو یتیمانو اوټولو بي اسري او غمځپلوخلکوکورکلي او جوماتونه دخاورو ایرو امبارونه کړل اوټول ملت ئي دغمونو اوویرونوپه سمندرلاهو کړ خودزماني په ډیرو مثالونو کي ډیرداسي فرعوني لښکري دخداي په مرسته درودنیل طوفانونو دابدي ناکامي لپاره ترستوني تیرکړي

(۷) مخ

# دهندي پولیسواومظاهره کوونکو دنښتي په ترڅ کي لس کسه مړه.او (۱۵۰) نورټپیان شوي دي

نوي ډیلي - دتلي ۱۲ نیټه :

هندي پولیسو دنوموړي هیواد داتراپردیش په ایالت کي په زرهاومظاهره کونکوباندي په دزوکي لس تنه وژلي او یوسل اوپنځوس ته نورئي ټپیان کړي دي .

دغومظاهره کونکو داتراپردیش په غرنیوسیموکي دیوه بیل ایالت دجوړولوغوښتنه کوله .

ددغي نښتي رپوټ دنوي ډیلي په دري سوه کیلومتري کي دمظفرګړ په ښارکي ورکړشو .

خبرکي ویل شوي چي نوموړو مظاهره کونکي په بسونو کي نوي ډیلي ته روان ووچي پولیسو دموټرونو کاروان ودراوه اوهغوي ته ئي دپایتخت دتګ اجازه ورنکړله .

په یوبل خبرکي ویل شوي چي په نوي ډیلي کي هم په لس هاووکسان هغه وخت ټپیان شول چي پولیسو پرهغوخلکوداوښکي بهونکي ګاز ګولي استعمال کړي چي دخپلواکي غوښتني په پلوي مظاهره کوله .

# دلغمان ولایت دڅارندوي...

سلګونوبرخوالو ګډون کړي ودقاري صاحب عبدالحي له خوا دقران عظیم الشان دځومبارکوآیتونو په تلاوت پیل شوه په پیل کي دنوموړي غونډي رابلونکي اودلغمان ولایت اداري رئیس محترم حاجي محمدعمرخان عالمانه ویناوکړه اوبرڅه وال ئي داسلام ددښمنانو له توطیو اوسازشونه خبرکړل وروسته دلغمان ولایت دمحکمي رئیس محترم مولوي صاحب محمدسعید «نائل» ، الحاج عبدالغفور «خمیني» ، اومولوي صفي الله یوپربل پسي عالمانه اوهراړخیزي ویناوي وکړي وروسته محترم وررور حاجي صاحب محمد عمر خان دلغمان ولایت دڅارندوي دقوماندانی تشکیل په لاندي ډول اعلان کړ :

شاه مرد خان دفرقه محمدخان زوي دڅارندوي عمومي قوماندان په توګه

استادسیدحسن خان دسید یاسین خان زوي دڅارندوي دقوماندانی مرستیال په توګه .

ضابط عزیز الرحمن دسیدرحمن زوي دلمړي نمبر دناحیې مسئول په توګه .

مطیع الله دمحمدخان زوي دلمړي نمبر دناحیې مرستیال په توګه.

سیف الرحمن دمیا رحیم خان زوي ددوهمي ناحیې دمسئول په توګه ،

جمعه ګل خان دسید امیرخان زوي ددوهمي ناحیې دمرستیال په توګه ،

ملا غیرت دملا غلام زوي ددریمي ناحیې مسئول په توګه .

محمدحسن خان دآستانه ګل زوي ددریمي ناحیې مرستیال په توګه ،

ضابط محمداشرف دجنائي آمریه توګه ،

مرسلین دمعاذالله زوي دجنائي آمریت مرستیال په توګه .

عبدالرزاق دعبدالخالق زوي دپیژندوآمر په توګه .

عبدالحنان دپیژند دآمریت دمرستیال په توګه .

محمد قاسم دعطا، محمد زوي دلوژستیك دآمریه توګه .

محمد اسلم دشاه محمد زوي دلوژستك آمریت دمرستیال په توګه .

عبدالرحمن دفرقه محمد خان زوي دترافیکو دآمریه توګه .

محمود خان دعطا، محمدخان زوي دترافیکو دآمریت دمرستیال په توګه.

محمددایم دمحمد جان زوي دمحبس دمدیریه توګه

عتیق الله خان دمحبس دمدیریت دمرستیال په توګه ،

خبریال لیکي چي وروسته بیاپه ولایتي مقام کي دتحلیف مراسم پرځاي شول .

# په کویټه کي...

منبع وایي دسیاسي کمیټي په نننۍ غونډه کي دري مسئلوباندي په تفصیل سره خبري وشوي چي په هغوي کي دافغانستان دستونزي بهرني عوامل اودافغانستان دستونزي داخلي عوامل وځیرل شول اودیوه موقت حکومت دجوړیدوپه باره کي خبري وشوي .

په رپوټ کي ویل شوي چي دخارجي عواملو په ارتباط وویل شول چي دغه ستونزه افغانانوپوري مربوط نه ده بلکه په دي برخه کي باید ملګري ملتونه اقدام وکړي اوداخلي عواملو په ارتباط پریکړه وشوه چي له ټولو تنظیمونونه دي وغوښتل شي چي دملګروملتودخاص هیئت او دمشورتي کمیسیون رواني غونډي ته خپل استازي واستوي .

منبع همدغه رازوایي چي دي باندي هم موافقه وشوه چي دمشورتي کمیسیون دغړو شمیر دي زیات شي اودغه کارباید دملګروملتودسولي هیئت ترسره کړي .

په دي رپوټ کي ویل شوي چي دموقت حکومت دجوړیدو په برخه کي هم په تفصیل به خبري وشي.

دمشورتي کمیسیون دسیاسي کمیټي ریاست دافغانستان دپخواني صدراعظم داکټرمحمدیوسف په غاړه دي اودکمیټي مرستیال قاضي وقادردي ، اوررسول امین دکمیټي منشي ټاکل شوي . همداراز ددغي کمیټي غړي عبدالستارسیرت ، داکټرصمد حامد، سلطان محمود غازي ،داکټریوسف نورستاني ،سلیمان یاري، پوهاندعظیمي ، عبدالاحد کرزي اوهمایون آصفي دي . همداشان دنظامي کمیټي ریاست دمولوي تره خیل په غاړه دي ، حاجي عبدالحق ،جنرال کتوازي، جنرال علم شاه اودکندهارد مجاهدینو یوتن قوماندان حمیدلالي ئي غړي دي اوداورپند په کمیټه کي جنرال کتوازي ، غلام علي آئین اوداکټرنورستاني شامل دي .

# "معلم یادفکری سنګرقوماندان" په کتاب علمی نقد

انجنیر نقیب الله "دانشیار"

معلم یا د فکري سنګر قوماندان کتاب دافغانستان د اسلامي حزب دیباوري اوعلمي قیادت مجاهد وررور ځکمتیار صاحب اثر دي ، چي (۱۳) دیارلس کاله پخوا تالیف شوي دي.

د نوموړي کتاب دبحث موضوع دیوهم تعهد او مؤمن ښوونکي علمي اوعملي ممیزات ،تعلیم اوتربیه اود فکري اوایډیولوژیك ښکیلاك څخه دخلاصون لار ده .

۱ - د ښوونکي ممیزات : - ښوونکي ،مبلغین اودعات په دوه ډوله دي ، یو ډول هغه دي چي قول او عمل یي یوشان وي اودخداي (ج) اسلام ته اوحقیقت لوري ته انسان دعوتوي ترڅو د ضلالت جهل ، انحراف او سقوط څخه وژغورل شي - دوهم ډول هغه ښوونکي ،مبلغین اودعات دي کوم چي د جهل اوبي علمي په وجه خلك ګمراه کوي، دمستقیمي لاري څخه یي بیلاري کوي، داسلام اوحق نه یي انحراف اوباطل لوري ته بیایي اودا دایمان په مخالف جهت کي حرکت دي.

- قرآن عظیم الشان دعلم دکتمان په باب فرمایي : - ( ان الذین یکتمون ما انزل الله من الکتب ویشترون به ثمناً قلیلاً اولئك مایاکلون في بطونهم الا النار ولایکلمهم الله یوم القیامة ولایزکیهم ولهم عذاب الیم )

ژباړه : یقیناً هغه کسان چي پټوي هغه څه چي خداي (ج) رانازل کړي له کتاب نه ،( هغه کتاب چي خداي (ج) را نازل کړي ). اواخلي په هغه باندي قلیله متاع ،دغه ټولګي نه اچوي په خپلو ګیډو کي مګرد دوزخ اور،او الله (ج) به دقیامت په ورځ ورسره خبري نه کوي . او نه به دوي تزکیه کوي اودوي لره دردناك عذاب دي.

- قرآن عظیم الشان دحق دکتمان اودتعهد دنقض کولو په باب فرمایي : - ( ان الذین یشترون بعهدالله وایمانهم ثمناً قلیلاً اولئك لاخلاق لهم في الآخرة ولایکلمهم الله ولاینظرالیهم یوم القیامة ولایزکیهم ولهم عذاب الیم ).

ژباړه: یقیناً هغه کسان چي اخلي په عهد اوخپلو تعهداتوله متاع ، دغه جماعت لره په اخرت کي څه نصیبه نشته او ددوي سره به الله (ج) خبري نه کوي اونه به ګوري دوي ته په ورځ دقیامت او دوي به نه تزکیه کوي اودوي سره دردناك عذاب دي.

- د رسالت مسؤلیت د یوه واقعي ښوونکي په حیث ښه څرګند دي ،حضرت محمد (ص)فرمایي (بعثت معلماً ) زه معلم مبعوث شوي یم . دا په خپله دښوونکي دعظمت ،لوړوالي اومعنوي قوت اوصلابت څرګندونه کوي ،تعلیم او تربیه انساني تاریخ اوانساني ټولنه دانسان دفطري غوښتنو مطابق جوړوي.

۲ -تعلیم او تربیه : -

- قرآن عظیم الشان فرمایي : - ( قل هل یستوي الذین یعلمون والذین لایعلمون ).

ژباړه: - روایه چي ایا برابر دي هغه کسان چي پوهیږي او هغه کسان چي نه پوهیږي .

مسلماً دلته دپوهي اوعلمیت عظمت اواهمیت څرګند شوي دي. ناپوه کسان دژوند ، دین اوآخرت په باب محض څه خیالات اوهسي څه ګمانونه لري، ددوي عمل هم په خیالونو مبتني وي .

-اسلام خپل پیروان په تدبر ،تامل ،تعقل اودقت باندي مکلفوي لکه چي فرمایي : - ولا تقف مالیس لك به علم )

ژباړه : په هغه شي پسي مکیږه چي دهغه په نسبت علم ونه لري . اسلام مؤمنان متوجه کوي ترڅو د دوي هر قدم ،هرحرکت ،اوټوله کړه وړه باید په پوهي اوعلمیت سره تنظیم شي ، ددي وجه داسي بیانوي : - ( ان السمع والبصر والفواد کل اولئك کان عنه مسئولا ).

ژباړه: - بیشکه غوږ ، سترګي اوزړه دا ټول هغه دي چي له دوي نه پوښتنه کیږي ددي قوتونو اواستعدادونو مهمل پریښودل نه یواځي مجاز نه دي بلکه لوي مسؤلیت اوجرم دي .

- قرآن عظیم الشان درسالت هدف داسي بیانوي : - ( کما ارسلنا فیکم رسولاً منکم یتلوا علیك آیاتنا ویزکیکم ویعلمکم الکتب والحکمة ، ویعلمکم مالم تکونو اتعلمون ).

ژباړه : - لکه چي لیږلي موږتاسي ته ، ستاسي له منځ نه یورسول چي لولي تاسي ته زموږ آیتونه اوتزکیه اوتربیه کوي تاسي اودکتاب (قرآن ) تعلیم تاسي ته درکوي اودحکمت تعلیم درکوي اوتاسي ته درښیي هغه څه چي تاسي په هغه نه پوهیدي .

- اسلام دټولني دقیادت اوزعامت لپاره هم علم یولازمي شرط ګڼي اودمشري اوقیادت دمواصفاتو څخه یو هم علمیت اوسالم وجود په ګوته کوي لکه چي فرمایي : - ( وزاده بسطة في العلم والجسم )

ژباړه: - زیاتوالي اوپراخوالي ورکړي شوي په علم اوجسم کي .

- کله چي په یوه قوم اوټولنه کي کتاب ،علم ،معلم ،متعلم ، تدریس ، تربیه اوتزکیه نه وي نو هغه قوم اوټولنه دقهقرا په جهت کي حرکت کوي اوبالاخره انحراف اوسقوط کوي.

- رسالت په تعلیم اوتربیه کي خلاصه کیږي . داچي عالمان دپیغمبر (ع) وارثان دي . ددوي مسؤلیت هم په تعلیم و تربیه کي دي ،اساساً دپیغمبر هر امتي ته دامیراث پاتي دي .

- حضرت رسول اکرم (ص) حضرت علي (رض) ته فرمایي : - یا علي ! که ستا په ذریعه یوکس هدایت شي دا تا ته ددنیااومافیها نه غوره ده. بناً په اسلامي ټولنه او ژوندون کي ښوونه او روزنه خوراجدي اهمیت لري ځکه دښوونې اوروزنې په وسیله دانسان ژوند داسلامي هدایاتو په اساس انسان ، دفطري خصایصو مطابق تنظیم اوعیارېږي چي دانحراف اوباطل نه ژغورل کیږي.

۳ - د آزادي اوخلاصون لاري : -

- د آزادي تر لاسه کول په دي کي مضمر دي چي باید په فکري اوعلمي لحاظ آزادي او استقلال تر لاسه شي ،تر څو چي په فکري مجال اوعلمي میدان کي دنوروتقلید اودنباله روي صورت نیسي دآزادي حصول ممکن نه دي ،ترڅوچي زموږ دښمن زموږ په زړه اودماغ مسلط وي ، هغوي ته په سیاسي او نظامي ډګر ونو کي ماتي ورکول ممکن نه دي په دي باب څه تاریخي مثالونه دادي .

- موږ انګریزانو ته په عسکري میدان کي ماتي ورکړه، دانګریزي متجاوز یو ځ څخه یواځي داکټر برایډن په تیښته بریالي شو.ولي په موږ انګریزي سیستم حاکم پاتي شو، دمکتابن اواماني الله ترمنځ تفاوت په دي کي وو چي آخر الذکر صرف افغان و خو په عقیدتي اوفکري لحاظ ددښمن مریي اوغلام و .

- اوس هم که موږ روسانو ته ماتي ورکړو( دا خبره ۱۳ کاله پخوا شوي ده ) ولي که په فکري اوسیاسي سنګر کي خپل استقلال او آزادي تامین نه کړو نو کله هم واقعي آزادي ته نه شورسیدلاي ، د واقعي خپلواکي لاس ته راوړل هلته ممکن دي چي په فکري اوعلمي میدان کي خپلواك واوسو.

- اسلامي تحریك داسي پیل شو چي څه معلمین راپیداشول ، داسي مبلغین اودعات را پیدا شول چي هغوي خپله خپلواکي خوندي وساتله او وبي غوښتل چي دیوه حر اومستقل مسلمان په حیث واوسي ، دبل چا مقلد اودنباله رو پاتي نه شي ، داسي نه چي خپل ټول ښه اوبد د نورو په تله وتلي اودنوروومعیار اوملاك دهغه دپاره معیاراو ملك وي. فقط دغسي څه ښوونکي را پیداشول اوپه عاملانه عمل یي داستر انقلاب منځ ته راوست چي ټوله نړي ورته حیرانه ده . اودا ددوي دکاراوعمل نتیجه ده .

- داچي زموږ ګران پیغمبر حضرت محمد (ص) دوخت دوه لوبي امپراطوري فارس او روم په ګونډو کړي له هغه (ص) سره دعلم وسله وه ،هغه (ص) د یوه ښوونکي ،مبلغ اوداعي په حیث لوي اسلامي پوځ جوړ اودتاریخ مسیر یي تبدیل کړ.

# په هند کي دطاعون ناروغي

عاطفي

دوه اونیې وړاندي د سورت په سیمه کي دسیلابونو له امله ځاي پر ځاي داوبودنډونه اومرداریو انبارونه جوړ شوي وو چي د حشراتو او موږکانو د زیاتوالي سبب وګرځید .که څه هم دسیمي خلکو او ځیني سیاسي تنظیمونو دحکومت پام ددي سیمي د پاکوالي په اړوند دجلبولوناکامي هڅي کړي ، خو دهند واکمنو دي لور ته اهمیت ونه ورنکړ چي بالاخره پاي یي دغو نمونیایي طاعون په څیر څرګند شو.

ددي ویاڅخه نه یواځي دسورت اوسیدونکي بلکه ټول نړیوال ددي خطرناکي خوریدونکي ناروغي له امله دیوسترګواښ سره مخ شوي.

دغو نمونیایي طاعون علامي چي کله دسورت په سیمه کي ښکاره شوي ، په لیدو لیدو په دي ناروغي دمبتلا خلکو قطارونه دسورت په روغتونونوکي څرګند اود مړینو سلسله پیل شوه .

دوه ورځي نه وي تیري شوي چي طاعون خپل سر دهند لویو ښارونو بمبي ، مهارشتر، ګجرات ، راجستان او نورو ښارو نو کي اوچت کړ.

ددي ناروغي د رارسیدو له ویري دنړي اکثرو هیوادونو په عاجله توګه خپل صادراتي ، وارداتي زمکني او هوایي ترانسپورتي اړیکي قطع اوهندي اتباعو ته د ویزو ورکول منسوخ کړل.

دهغو حکومت دنړیوالي صحي اداري څخه دمرستو غوښتنه کړي اوهم یي په هندوستان کي په ښوونځیو،لیسو، پوهنتونونو ، سینماګانو ، دشراب اوتڅا په مراکزواوپه ټولو هغوځایونو چي دخلکو ګڼه ګوڼه پکي جوړیږي تر امر ثاني پوري بندیز یي لګولي دي.

دهند هغه سیمي چي دطاعون ناروغي په ولکه کي راغلي سخت هیجاني حالت اوکیفیت رامنځ ته شوي دصحي عمله لدي سیمو څخه تښتي لیکن دسیمي خلك هڅه کوي چي دصحت عمله تښتي ته پري نږدي اوکه کوم داکټر په تیښته بریالي هم شي نو دهغه کورتالاکوي.

یواځي د سورت دسیمي څخه چي دوه ملیونه وګړي پکي میشته وو نیم شمیر خلك بي پاتي او نوریې مختلفو سیموته پناه وړي.

دهند صحي چارو وزارت له خلکوڅخه په کلکه غوښتي چي دنظافت په راوستوکي دمسؤلوخلکو سره مرسته اوهم په ټولنیز ډول د موږه کانو اونورو حشراتو دوژلو په برخه ښه ونډه واخلي څکه چي حشرات اوموږه کان ددي ناروغي دخوړولو اصلي عامل پیژندل شوي.

دهند سربیره دطاعون ناروغي په انګلستان کي هم معاینه شوي تیره ورځ دانګلستان دصحي چارو مسؤلینو په خبري کنفرانس کي په ډاګه اعلان وکړ

چي دوه تنه ناروغان دهندوستان له خاوري څخه انګلستان ته ستانه شوي چي د روغتون په یوي ځانګړي کوټي کي ترمعالجي لاندي دي.

همدا راز یو ماشوم هلك په لاهورکي هم ترمعاینې لاندي نیول شوي چي د طاعون ناروغي ګمان وریاندي شوي ؤ.

له بلي خوا دهندوستان ګاونډي هیواد پاکستان تیره ورځ په دي غرض یو ریل ګاډي هندوستان ته واستو چي هلته ایسار پاکستانیان خپل هیواد ته حمل کړي چي په همدغه ورځ نوموړي ریل ګاډي دهندوستان څخه ( ۳٤۷ ) تنه پاکستانیان دپاکستان خاوري ته حمل کړل خودپاکستان دصحي چارو دمسؤلینو لخوا نوموړي خلك دکلیو اوښار نه لري داورګاوودتم ځاي سره نږدې په یوکمپ کي ایشار کړل ترڅوپه بشپړه توګه وکتلي شي چي دراغلوپاکستانیانو په وجود کي دطاعون علایم ښکاره نشي تر څوددا ناروغي دپاکستان نورو سیمو ته خوره نشي.

ددي ناروغي دخبر په خوریدو سره سم دهند صادراتي صنعتي ،تجارتي اوترانسپورتي کاروبار په ټپه ودرید اودلرو ورځو په اوږدو کي هند دکړوړونو ډالروزیان سره مخ شو.

دهند اتباع په ټوله نړي کي اوبه خاصه توګه دخلیج په ریاستونو کي ددي ناروغي له کبله دتحقیراوتهدید سره مخ دي.

دخبري سرچینو په حواله ویل کیږي چي ددي ناروغي لړي اوس دبنګله دیش سرحدي ایالتونو ته هم سرایت کړي.

دطاعون ناروغي سحاري اوژرخوریدونکي ده. ددي ناروغي علایم په شپږوورځوکي برسیره کیږي اویه مستقیمه توګه په سرواغیزه کوي چي دتوخي په واسطه دبلغم سره وینه هم خارجیږي پرانساني جسم ۱۰۰ یا (۱۰۱) درجي فارنهایت تبه ، سردرد ،دبدن په بیلابیلواعضاوودرد سستوالي اودنیم بیهوشي حالت شامل دي.

دطاعون له ټولو نه خطرناکه ډول نمونیاده چي درمل یي تقریباً ناممکنه ده چي دانسان تنفسي جهاز تخریب بلغم او وینه قي کوي دا ډول ناروغي په سمدستي توګه دیوانسان نه بل انسان ته منتقلیږي .

# جنایات صربها را...

امت اسلامي باید دربرابرتجاوزات رژیم صهیونستي علیه مسلمانان فلسطیني بایستد وباتلاش هاي خود براي به دست آوردن حق اعراب وفلسطینیان ادامه دهد . وي همچنین باانتقاد از عملکرد جامعه جهاني دربرخوردبین مبارزان اسلامي وجنایات صربهاي بوسنیا گفت که این جنایات هیچ گاهي ازیادملت مسلمان نرفته ونخواهد رفت

# در اجتماع عظیم مردم مسلمان ولایت فاریاب درشهرمیمنه ایراد گردید...

هیئت بزرگی صفحات شمال کشور ، درسلسله بازدید هایش ، شام روز شنبه ۱۹ سنبله وارد شهرمیمنه شد ، درمیدان هوایی آنولایت ، والی ، قوماندان قوای مسلح ، مامورین ملکی وافسران عسکری ، علما ، ریش سفیدان ، طلاب معارف وجمع کثیری از شهریان میمنه وروده هیئت راخیرمقدم گفتند . روز یکشنبه هیئت ضمن بازدید از مؤسسات تعلیمی صحی و صنعتی شهر میمنه دراجتماع عظیم مردم مسلمان آنجا حضوربهمرسانید.

ابتدا عبدالرحمن رحمانی والی فاریاب پیام استقبالیه مردم آنولایت رادر محفل قرائت نمود، سپس برادران هریک داکترغیرت "بهیر" ، سعید عمر "اعزامی" والجنیرمحمد نسیم "مهدی" بالترتیب صحبت نمودند .

## سخنان داکترغیرت "بهیر"

الحمد لله رب العلمین والعاقبة للمتقین والصلوة والسلام علی اشرف الانبیاء والمرسلین محمدوعلی آله واصحابه اجمعین . امابعد :

برادران ، موسفیدان ومسئولین محترم ولایت سرپل!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته .

قبل ازهمه تشریف آوری شمادراین آفتاب گرم وسوزان راخیرمقدم گفته وخیلی سپاس گزارم . همچنان بااستفاده ازفرصت میخواهم که خدمت شمااحترامات وتمنیات نیك وصمیمانه رهبر حزب اسلامی افغانستان برادرحکمتیاررا تقدیم نمایم ودرضمن میخواهم که ازمهمان نوازی واستقبالی که تاحال ازمابعمل آمده اظهارسپاس گزاری وتشکرنمایم . راستی هم ما ازروز اولی که وارد شهر تاریخی وباستانی مزارشدیم تاهمین لحظه بااستقبال بی نظیروبی مثال روبروشده ایم ویکباردیگر ازاین استقبال گرم تشکرمیکنم .

راستی هم خاطرات فراموش ناشدنی ای از سفر باخود حمل میکنیم .

برادران محترم!

شماهمه تان قضایای سیاسی ونظامی کشورمحبوب خودرا دنبال میکنید ولی من به اختصارخدمت تان عرض میکنم که دشمن ان شاء الله رو به نابودی است وفتح خنجان تقریباً کمردشمن را شکستانده وان شاء الله دورنخواهد بودکه همچو خنجان ، کندز، تخاروبدخشان بدست مجاهدین دلیرما فتح شود. درسمت هایی که ماازآن طرف آمدیم هم بشمااطمینان میدهیم که وضع عسکری خیلی خوب است . برادران هرروزپیشروی دارند، فتوحات رانصیب می شوند . معنویات ومورال مجاهدین شورای عالی هماهنگی خیلی اعلی وبلند است برعکس طرف مقابل مورال خیلی ضعیف ومعنویات ندارند وروزبروز برشکست مواجه می شوند .

یکی ازعلایم شکست دشمن اینست که درهرمرحله یی که آنها تضعیف میشوند، ازتگاه عسکری، مسئله مذاکرات وتفاهم راپیش میکنند .

برادران عزیز!

حال وماضیی شورای عالی هماهنگی خیلی واضح است . مابه این ایمان داریم که قضیه افغانستان یك راه حل دارد وآن اینست که باید مابه آرای فردفرد ملت افغانستان مراجعه کنیم مانمیخواهیم که دیگردرافغانستان بزور نیزه حکومت شود. مامیخواهیم بعداز این حکومت های ماوقیادت های ما منتخب باشند . به این اساس طرح ماخیلی واضح وروشن است . مابدون یك حکومت منتخب اسلامی به هیچ چیزدیگرراضی نیستیم . یکمرتبه دیگر ازهمه مسئولین وکارکنان وموسفیدان منطقه که درقسمت اعمار واستقرارامنیت منطقه رولی راادا نموده اند سپاس گذاری مینمایم . والسلام

## سخنان سعید عمر "اعزامی"

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم اما بعد :

فاعوذ بالله من الشیطان الرجیم

بسم الله الرحمن الرحیم

واعتصموا بحبل الله جمیعا ولاتفرقوا ، واذکروا نعمت الله اذ کنتم اعداء ، فالف بین قلوبکم فاصبحتم بنعمته اخوانا .

محترم والی صاحب ، قوماندانان قوای مسلح ، علما ، موسفیدان ، طلاب وکافه شهریان متدین ، شریف ومجاهد شهر باستانی میمنه! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته .

قبل از همه از احساسات گرم شماعزیزان نسبت به خویش که به حق مبین علاقه قلبی وصمیمیت بی شائبه تان است، سپاسگذار و ممنونیم وامیدواریم که خداوند بر محبت هاومؤدت های فیما بین بیفزاید.

برادران عزیز !

رهبران جهادی آرزوداشتند که در جریان جهاد ویاحد اقل پس ازپیروزی انقلاب ازشما احوال گیری نموده وفداکاریها وقربانی های پانزده ساله شما راتحسین نمایند ، مگر شاید اطلاع داشته باشید که بعداز پیروزی انقلاب مشتی عناصرماجراجو و فرصت طلب شرایط را در افغانستان بگونهٔ درآوردند

گوشه ای ازاجتماع شهرمیمنه که درسکوی حیاط آن اعضای هیئت واراکین نظامی وملکی به نظرمیرسند

که مسئولین امر فرصت ابتدا نیافتند که به همت و فداکاریهای پانزده ساله شما حداقل تهنیت وشادباش بگویند ، همین حالا که ما درخدمت شما قرار داریم ، تقریباً بعداز انتظار زیاد علی الرغم موانع ومشکلات به اینجا آمدیم .

مشکلات جنگ از یك سو، مشکلات ترانسپورتی از سوی دیگر، همه موانعی اندکه نمیشود برادران شما از نقاط دوردست تمنیات واحساسات نیك شان را خدمت شما تقدیم کنند . به هرصورت فرصت کوتاهی که به مادست داد ، خدارا شکرگذارهستیم که شما ملت مؤمن ومجاهد را از نزدیك ملاقات میکنیم .

درآیه شریفه یی که من حضور تان تلاوت کردم ، اصل وحدت ویك پارچگی ملت وهمچنان نتائج ودست آورد های که وحدت ویك پارچگی نصیب یك جامعه و مردمش میگرداند اشاره خیلی کوتاه وموجز صورت گرفته است.

(واعتصموا بحبل الله جمیعا )

شما به رسن الهی همه یکجا چنگ بیندازید ، (ولاتفرقوا ) وپراگنده نشوید .

همه باید به عنوان یك قوت واحدومشترك عمل کنید ، هر گاهی شما چنین کردید میتوانید که دشمن خود را شکست بدهید.

اگر از تاریخ صدراسلام به یاد داشته باشید وبرادرانی که سیرت و تاریخ را مطالعه کرده باشند ، میدانند که درعربستان قبل از اسلام قبایل، عشایر وملیت های مختلفی وجود داشتند که درمیان آنها وحدت وجود نداشت ، آنها روی عصبیت هاحساب میکردند ، روی نژادهاحساب میکردند ، روی زبان ها حساب میکردند وهمان چیز موجب شده بود که آنها همیشه دشمن همدیگرباشند وهیچگاهی هم درگرد یك کلمه یی که آنها را برمحور خود میچرخاند جمع نمیشدند . ولی باطلوع آفتاب هدایت اسلام (رسن الهی ) آنها همه یکجا وهمدست ویك پارچه به اسلام عزیز چنگ انداختند وهمین وحدت واتحاد موجب آن شد که اقوام وعشایر ذلیل عرب به اوج عزت صعودنمایند . شما شاهد هستید که عین جریان را ما درافغانستان قدم بقدم مشاهده نمودیم ، ملت ما قبل از آغاز جهاد کاملاً پراگنده بود ، هرکس وناکس می آمد و بالای این ملت حکومت میکرد ، هرظالم و ملحدی برمافرمان میراند ، ولی خداوند (ج) جهاد را وسیله عظمت وعزت ما قرارداد ، طوریکه این ملت بوسیله جهاد ازحقارت واهانت نجات یافت وقضای الهی چنان شدکه پس از این ملت افغان درزیر سم ستوران ظالمان و ریاکاران خورد وخمیرنشوند و به برکت جهاد بود که خداوند به اینها نعمت هدایت رانصیب کرد وجهاد که بهترین هدیه است پیشه آنها شد و درمسیر جهاد از شهادت که بهترین آرمان مؤمن است بهره مند گردیدند ودرفردای این همه مشکلات ، مصائب وقربانی ها افتخار به پیروزی رساندن انقلاب اسلامی را کمایی نمودند .

شهریان عزیز فاریاب !

پیروزی انقلاب اسلامی نعمت خیلی بزرگ است وباید که همه ما وشما به آن ارج بگذاریم وحقش را اداکنیم .

(واذکروا نعمت الله اذکنتم اعداءً )

وشما بیاد بیاورید و ذکرکنید نعمت خدا را که حالا نصیب تان شده است .

(اذکنتم اعداءً ) وقتیکه شما دشمنان یکدیگر بودید ،

اصلاً این خطاب متوجه قبائل وعشائرعرب است ولی امروز همین تعبیر قرآنی کاملاً برساختار و میکانیزم اجتماعی وملی کشورماصدق میکند .

ملت ما هم چون اعراب پراگنده بود ، مثل اعراب صدر اسلام ، درهرمنطقه یك پادشاهی بود ، اندیشه ونظری بود و بالآخره یك سلیقه وبرداشتی بود ، وحدت ملی به معنای درست کلمه وجود نداشت ، نسبت پراگندگی ملت هر ظالم ، فاسق و فاجری به عنوان سلطان، رئیس جمهور بالای ملت ما حکومت میکردند .

ولی مابااید آن روز ها را بیاد بیاوریم . (اذ کنتم اعداءً ) وقتیکه شما دشمنان همدیگربودید . (فالف بین قلوبکم ) پس درمیان قلوب شماخداوند الفت انداخت ، وشما را دوست یکدیگر گردانید . شما به یکدیگرنزدیك شدید ، شما مؤید وحامی یکدیگرشدید و یکدیگرخود راتائید کردید ( فاصبحتم بنعمته اخواناً ) پس گشتید به نعمت و به یاری خداوند (ج) برادران یکدیگر. امروز ما وشماکه در این محوطه وسیع وفراخ گردهم جمع شده ایم، همه برادران یکدیگرهستیم .

من میدانم همین برادرانیکه درین محوطه جمع شده اند چند سال پیش به گروه واحزاب مختلف جهادی تقسیم شده بودند . چند سال پیش یکعده به نام دولتی ویك عده به نام جهادی منقسم بودند ، چند سال پیش مردم به نام پشتون وتاجك و ازبك بلوچ بودند ، چند سال پیش مردم به نام سنی وشیعه دسته بندی شده بودند ، ولی امروز شما همه برادران یکدیگر هستید قدر این نعمت را باید بدانید و نعمت وحدت را هیچگاه فراموش نکنید زیرا این چیز درنتیجه جهاد وفداکاری های شما نصیب تان شده است.

شهریان شریف میمنه:

عصبیت در اسلام حرام است . هرکس که نام عصبیت رابلند کند یقیناً که او گناه کرده است . عصبیت به شرك منتهی می شود . قال رسول الله (ص): من دعا الی العصبیة فلیس منا .

پیغمبر علیه السلام میفرماید: کسیکه به سوی عصبیت دعوت کرد اوازمانیست ، یعنی شخص متعصب از جملهٔ امت مابه شمارنمیرود ، اوپیرو مسلك ومشرب مانیست .

ما وشما در جریان سالهاییکه جهاد جریان داشت ، خیلی شعار ها دادیم ، از پیامد جهاد ، از خوبی های اسلام ، از فضایل جامعه اسلامی سخن میزدیم بالآخره از تحولات دهن پر کن پس از آمدن حکومت سخن میزدیم ومردم را به همین خاطر مرهون وعلاقه مند خودساختیم . مردم باما همدست شدند ، همه مردم در پشت سر همین قوماندانان مجاهد یکه رایت جهاد را بلند کرده بودند قرارگرفتند وتوانستند درجامعه یك تغییربنیادی وعظیم را بیاورند ، پس پیروزی جهاد یك نعمت بزرگ است وباید ما قدر این نعمت رابدانیم وهمان شعار هایی را که درصدرجهاد میدادیم ، حالا وقتش فرارسیده ، آنها را قدم به قدم عملی کنیم .

برادران محترم !

